الدرس السابع
عام الحزن

ووم درس
د غم کال

د شعب ابی طالب د راتللونه پس ابو طالب بیمار شو د نبی کریمﷺ تره صاحب فراش شو، څو ورځی تیری شوی نوی چی ابو طالب باندی د مرګ علامی ښکاره شوی ، رسول اللهﷺ د تره سر طرفته کیناستو ، د مرګ نه مخکښې ئے تری د لااله الا الله د اقرار مطالبه کوله، لیکن بل طرفته کافران رشته دار خاصکر ابوجهل د اسلام د قبلولو نه منع کولو او ورته ئے وئیل چی ته د خپل پلار نیکه دین پریږدی ، د عبد المطلب ددین نه مخ اَړوی ، تردی چی ابو طالب د شرک په حالت کښې وفات شو ، رسول اللهﷺ ته د ابو طالب په وفات باندی ډیر غم ورسیدو ، ځکه چی د شرک په حالت کښې وفات شو ، د ابو طالب د مرګ نه دوه میاشتی پس خدیجه رضی الله عنها وفات شوه چی رسول الله ﷺ ته ډیر غم ورسیدو ، ددی دواړو د وفات نه پس مشرکانو نبی کریم ﷺ باندی تکلیفونه نور هم ډیر کړل .**طائف ته سفر**: د قریشو سرکشی فرعونیت او مسلمانانو ته تکلیف ورکول د حد نه ډیر شوو نبی کریم ﷺ طائف ته د سفر کولو اراده وکړه ، کیدی شی الله تعالی هغوی ته هدایت وکړی طائف ته تلل څه آسان نه وو ، یو خو د طائف لار په غرونو کښې مشکله وه ، او بل د طائف والو د طرفنه جواب انتهائی تکلیف والا وو ، دی خلقو د نبی کریم ﷺ په خبره هیڅ پرواه ونکړه بلکه بدی بدی خبری ئے ورته وکړی ، او ماشومان ئے وریسی کړل په کانړو ویشتلو تردی پوری چی د نبی کریم ﷺ پنړی مبارکې د وینونه ډکی شوی پدی مشکل حالت کښې نبی کریم ﷺ مکے مکرمې ته د واپس تللو فیصله وکړه ، رسول الله ﷺ ډیر زیات خفه او غمجن وو، پدې وخت کښې جبرئیل علیه السلام سره د غرونو ملائک راغلو، جبرئیل علیه السلام وفرمائیل : (**وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ**) ترجمه : یقینا الله تعالی د غرونو والا ملائک تاته رالیږلے دی دی دپاره چی ته ورته حکم وکړی څه چی ستا خوخه وی ، ملائک ووئیل : (**إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمِ الأَخْشَبَيْنِ**) اے محمد ﷺ که ستا خوخه وی زه به دی قوم باندی دا دوه غرونه یوځائی کړم ، نبی کریمﷺ جواب ورکړو : (**بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ وَحْدَهُ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا**)بلکه زما دا امید دی چی الله تعالی به د دوی په نسلونو کښې داسی خلق پیداء کړی چی د الله تعالی عبادت به کوی او د الله تعالی سره به هیڅوک نه شریک کوی، حالانکه نبی کریم ﷺ ته ددی خلقو د طرفنه ډیر تکلیف رسیدلے وو ، لیکن د هغی باوجود هم نبی کریم ﷺ د خپل قوم په باره کښې د شفقت او د صبر مظاهره وکړه **د سپوږمئ دوه ټکری کیدل** :د مکے مشرکانو به بار بار د رسول اللهﷺ نه د معجزاتو مطالبه کوله ، داسی معجزه راوړه چی هغی سره زمونږ ستا په نبوت یقین راشی ، دا مطالبه به ئے بار بار کوله ، یو ځل ئے دا مطالبه هم وکړه چی دا سپوږمئ دوه ټکری کړه ، نبی کریم ﷺ د الله تعالی نه دعاء وکړه ، الله تعالی سپوږمئ دوه ټکری کړه ، چی قریشو تر ډیر وخت پوری وکتله، ددی باوجود ئے د ایمان راوړلو نه انکار وکړو ، بیا ئے ووئیل چی محمد ﷺ مونږ باندی جادو وکړو ، یو سړی ووئیل که محمد ﷺ تاسو باندی جادو کړی دی نو ټولو خلقو باندی خو جادو نشی کولی ، نو قریش د بهر نه د راتلونکو خلقو انتظار کولو کله چی د بهر نه مسافر راغلل نو د هغوی نه ئے تپوس وکړو، هغوی جواب ورکړو چی آو مونږ دا واقعه لیدلې ده، ددی ښکاره معجزی باوجود هم مشرکان په خپل کفر باندی مضبوط وو .